نړیوال بانک
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

*د نړیوال بانک د راپور موندنه:*

# د ملي پیوستون پروګرام د ننګونو له چاپیریال سره سره د سیمه اییزو مؤسسو په پراختیا کې د پام وړ پرمختګ کړی دی

**کابل، د فبروري څلورمه نېټه، ۲۰۰۸ کال:** د نړیوال بانک د هغه راپور پر بنسټ چې نن خپور شو، د ملي پیوستون پروګرام چې د کلیو تر مشرۍ لاندې د بیاجوړونې او بنسټونو د ودانولو یو نوښت دی، د کلیو د توانونو د پراختیا، د سیمه اییزو اړیکو د ښه والي او پر دولت باندې د خلکو د باور د زیاتوالي په ډګرونو کې یې د پام وړ لاس ته راوړنې درلودلې دي.

د نوموړي راپور پر بنسټ چې د ملي پیوستون د پروګرام د لمړۍ مرحلې بشپړه اجرا او پایلو تر سرټکي لاندې خپور شوی دی، په ۲۰۰۳ زیږدیز کال کې د ملي پیوستون پروګرام د خپل پیل راهیسې د افغانستان ۱۵،۴ میلیونه وګړي (یانې د کلیو د اوسیدونکو په سلو کې ۸۱ مه)تر پوښښ لاندې راوستي دي. د ۲۰۰۸ کال د جنورۍ د میاشتې تر ۲۴ مې نېټې پورې شا او خوا ۱۹۱۰۰ کلي دې پروګرام ته چمتو شوي دي او کابو ۱۸۳۰۳ د کلیو پراختیایي شورا ګانې په بریالیتوب سره ټاکل شوې دي. تر ۳۱۳۹۶ څخه زیاتې د کلیو پروژې په پوره یا قسمي توګه تمویل شوي دي چې له هغې ډلې څخه تر ۱۵۱۱۱ څخه زیاتې پروژې بشپړې شوې دي. اوس مهال د ملي پیوستون پروګرم د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې له ۳۶۴ ولسوالیو څخه په ۳۵۲ ولسوالیو کې فعالیت لري.

د ملي پیوستون پروګرام د افغانستان د جمهوري دولت له خوا د کلیو د پراختیایي پروژو د پېژندنې، پلان جوړونې، اداري او څارنې په هکله د افغانستان د کلیو د توان د اوچتولو لپاره جوړ شو. دا پروګرام په سیمه اییز حاکمیت کې د ټولو د ګډون، د کلیو د بیاجوړنې او د بېوسۍ او خوارۍ د لږولو پر بنسټ جوړ شوی دی.

په یاد شوي راپور کې په ډاګه شوي چې دې پروژې د کلیو په کچه د سلا مشورو له لارې د پرېکړو د میکانیزم په جوړولو سره سیمه اییزو ټولنو ته ځواک وربه برخه کړی دی. دې پروګرام د خلکو د استازي مشرتابه څخه د کلیو تر منځ او همدارنګه د کلیو او دولت او مرستندویه ادارو تر منځ د اړیکو د بنسټ په څېر کار اخستی دی. د ملي پیوستون پروګرام سیمه اییزه بیا جوړونه، پرمختیا او د ظرفیتونو وده د پراختیایي مالي وجهو له لارې تمویل کړې دي.

*"نوموړی راپور دا ښیي چې د ملي پیوستون پروګرام د بېوسۍ په ټیټولو او د سیمه اییز حاکمیت په پیاوړتیا او د کلیو په ځواکمنتیا کې د پام وړ پر مختګ کړی دی."* دا مطلب **جلالتمآب محمد احسان ضیأ، د کلیو د بیارغونې پراختیا او بیاجوړونې وزیر** یاد کړ او زیاته یې کړه چې *"تر اوس مهاله پورې لاس ته راغلی پرمختګ او پاته لوې چارې دا ښیي چې نړیوالو مرسته ته اړتیا شته ده ترڅو د ملي پیوستون پروګرام او کلي وکولای شي چې هغه اغېزناک کار ته چې مونږ پیل کړی دی، ادامه ورکړي."*

د ملي پیوستون د پروګرام په لمړۍ مرحله کې چې د ۲۰۰۳ کال د ډسمبر د میاشتې څخه د ۲۰۰۷ کال تر مارچ پورې پلې شو، نوموړي پروګرام د امنیتي ستونزو، د افغانستان په کلیو کې د مسلکي پوهې د ټیټ والي او د مالي وجهو د ځنډ سره سره د پام وړ لاس ته راوړنې درلودلې دي. د ۲۰۰۳ کال د ډسمبر د میاشتې څخه د ۲۰۰۷ کال تر مارچ پورې، شا او خوا ۱۶۵۰۲د کلیو پراختیایي شوراګانې دنارینه او ښځینه وو له خوا د پټو رایو له لارې ټاکل شوې دي چې پدې توګه د ملي پیوستون د پروګرام پوښښ د هېواد د کابو ۲۴۰۰۰ کلیو په دریو کې دوه برخو ته رسېدلی دی. په مجموعي توګه ۲۲۴۵۸ فرعي پروژې چې د کلیو د ۱۲۲۷۰ پراختیایي شوراګانو له خوا وړاندې شوې وې، په منځنۍ توګه د هرې شورا لپاره د ۲۳۱۲۱ امریکایي ډالرو په واسطه تمویل شوې دي.

*" د افغانستان په تاريخ کې د لمړي ځل لپاره د ملي پيوستون پروګرام د ټولو د مشورو له لارې د پرېکړو يو رسمي چوکاټ وړاندې کړ تر څو د کليو په کچه د دولت د اداري سيستم د يوې برخې په حيث پلي شي."* **دا مطلب مريم شېرمن چې په افغانستان کې د نړيوال بانك مشره ده،** څرګند کړ او زياته يې کړه چې *"د ملي پيوستون د پروګرام څخه مخکې ښځو اجازه نلرله چې د کليو په ارګانونو کې برخه واخلي او په دې توګه د هېواد نيمايي کسان د کليو د چارو په هکله د څه ويلو څخه بې برخې وو. د کليو د پراختيايي شورا ګانو په معرفي کولو سره د ښځو مساوي استازيتوب هڅول کيږي او په منځنۍ توګه د پراختيايي شورا ګانو ۳۵ په سلو کې ښځينه دي."*

د همکارو مؤسسو د يوې ډلې په آند، ددې پروګرام د ډيزاين لويې ګټې دا دي چې وجهې په مستقيمه توګه کليو ته لېږدول کيږي، په پروژو باندې د خلکو د کنټرول يو قوي احساس منځ ته راځي او د پټو رايو له لارې ډيموکراتيکې ټاکنې ترسره کيږي چې د هغې له لارې خوار او ځنډې ته پاته کسان د پرېکړو په پروسو کې ګډون کوي.

نړيوال بانك د ملي پيوستون د پروګرام عمده تمويل کوونکی دی چې ۳۰۶ ميليونه ډالره مرسته يې ورسره کړې ده. نورې سرچينې يې د افغانستان د بيا جوړونې صندوق (۲۱۶ ميليونه امريکايي ډالره)، د جاپان د ټولنيزې پرمختيا صندوق او څو دوه اړخيزه مرستندويان دي.

د پروګرام د بشپړتيا راپور د پروژې د بشپړېدو پر مهال جوړ شوی دی او ښيي چې پروژې د پلي کېدو له مرحلې څخه د فعاليت مرحلې ته ځي. د نومړي راپور له لارې د پروژو د موخو او پايلو د لاس ته راوړنې کچه د هغو له سندونو سره سم ارځول کيږي.
همدارنګه د پروژې نورې پايلې او د پام وړ اغېزې، د پروژې د دوام امکانات، د نړيوال بانك او پورورې هېواد اجراات په خاصه توګه د ساتندويه چارو او د نومړي بانك د کاري پاليسيو په هکله څېړل کيږي. سر بېره پردې، دا راپور د نومړو ارځونو د سپيناوي په هکله اطلاعات او تحليلات لري او د پروګرام د پلي کېدو په هکله لاس ته راغلې تجربې ښيي. د نومړي راپور لپاره د نړيوال بانك سايټ کتلای شی. www.worldbank.org

د کليو د بيا رغونې او پراختيا د وزارت په هکله د لازياتو مالوماتو لپاره لاندې سايټ وګورئ:
/nspwww.mrrd.gov.af

په افغانستان کې د نړيوال بانك د فعاليتونو په هکله د لازياتو مالوماتو لپاره لاندې سايټ کتلای شی:
www.worldbank.org.af

\# # #

**<u>د رسنيو د تماس مرجع ګانې:</u>**

**د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت**
اجمل پيمان ۰۷۰۰۶۵۲۸۶۰
apn@mrrd.gov.af

**د نړيوال بانك**
عبدالرووف ضيا ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰
azia@worldbank.org